# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com		www.afgazad.com

| کودکان | Children |
|---|---|


۱۰/۱۰/۱۵

## "یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!"

## لیوهو – لان

انځورگر: منگ چینگ – چیانگ

ژباړه: فرهاد ویاړ

(دریمه برخه)



جاپاني غليمانو ايالتي ښار اشغال کړ او هغه يې په يوه پياوړي سيمې بدله کړه. هغوې هر ځاې ته اور اچو، لوټ يې کاو او خلك يې ډير زيات ځورول. د اتم ستون پوځ به معمولاً مخکښان ايالتي ښار ته ليږل چې د دښمن د مرچلونو په اړه معلومات پيدا کړي. دا کار د دې لپاره و چې پر دښمن يرغل وکړي او هغوې نابود کړي او ښار آزاد کړي. يوځل هو- لان هم د يو مخکښ سره لاړه چې د دښمن د مرچلونو په پيژندني کې له هغه سره مرسته وکړي.



د اتم ستون پوځ ډير ژر د هغو اطلاعاتو په مرسته چې لاس ته يې راوړي وو، د ون شوی ايالتي ښار يې آزاد کړ. کليوالو د ډهل او شپيلی په غږولو سره دا بريا ولمانځله. هو – لان او ځوانو ملګرو يې د يوې ټوکرې کجورو سره د اتم ستون د پوځيانو هر کلی وکړ.



د ۱۹۴۵ کال د اکتوبر په مقاومت جګړه کې له بریا وروسته، هو- لان د ښځینه کدرونو د زده کړې په ټولګیو کې شامله شوه. دا ټولګي د ګوند د ایالتي کمیټې لخوا جوړ شوی و. سره له دې چې هو- لان ډېره کمه ښوونځي ته تللې وه، خو زیاته مطالعه یې کوله.




لیو- هولان د ګوند او صدر مائو سره مینه لرله او هوډ یې کړی و چې یوه کمونیسته شي. هغه چې په جګړې او د بی پایه طبقاتي مبارزې کې کلکه شوه، د کمونیست ګوند د آزمایښتي غړی په توګه ومنل شوه. هغې د ګوند د بیرغ په وړاندې لوړه وکړه :"هیڅکله به ستونزو په وړاندې ماته و نه منم او دښمن ته به تسلیمه نشم. د خپل ټول طاقت سره به د کمونیزم لپاره مبارزه وکړم."